مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۴/۰۴/۰۵

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۲۸۰مه برخه

## روژتی لنډۍ

## ۱۲مه برخه

**ته د ملا نه ټپوس وکه**
**که په خولګی روژه ماتیږي غرقه شومه**

**د روژه ماتي وخت کي راغلی**
**زه به ډوډۍ خورم که به ستا دیدن کومه**

**یار په سفر ځي خولهٔ به ورکړم**
**روژه دي ماته شي، شپیته به ونیسمه**

د روژې مبارکه میاشت خلاصېدو ته ورنږدې ده. هرکال په همدې میاشت کې زه د روژې په باب نوې تخلیق شوې لنډۍ راټولوم او انلاین کومه یې. تېرکال مې په همدې میاشت کې د روژې په مناسبت ښایسته ډېرې نوې لنډۍ راټولې او انلاین کړلې؛ خو سږ د روژې په باب د نویو تخلیق شوو لنډیو بازار یوڅه سوړ دی. تراوسه مې ایله د ځلوېښتو نویو لنډیو په شاوخوا کې راخوندي کړې دي.

تېرکال مې هغو لنډیو ته چې د روژې په پار تخلیق شوې وې او ما راخوندي کړې وې، «روژتی لنډۍ» سرلیک غوره کړی و او په یولس برخو کې مې خپرې کړې وې، سږ یې هم تر همدې سرلیک لاندې وړاندې کوم.

د روژې په باب په میډیا کې ډېرې لنډۍ راترسترګو شوې، خو ډېره سلنه یې تکراري لنډۍ وې. د روژې په باب کومې نوې لنډۍ مې چې په سږنۍ روژه کې راټولې کړې دي، د «لنډۍ، د ښتولو ستونزه» د لړۍ په دوو برخو کې به یې تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم.

**پردی وطن، پردی ماښام دی**
**د روژه ماتي پکې نشته دي خوندونه**

**داسي په ښنګ رانه تېرېږې**
**لکه روژه درباندې ما نیولې وینه**

**اختر ته لس ورځې لا پاتي**
**جونو تالا کړل د نیکریزو دوکانونه**

**ښنګه چي نن روژه شوه تېره**
**داسي به تېر شي د ښېلتون تیاره وختونه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**ماښام مې سترګو ته ولاړ وې**
**د اذان وخت و زه سلګو نیولې ومه**

**خپل روژه ماتی رانه هېر دی**
**په فکر ستا یم چې جانان به څنګه وینه**

**صبر کوه اختر به راشي**
**موږ خو روژې د صداقت نیولېدینه**

**ته د ملا نه تپوس وکه**
**که په خولګی روژه ماتیږي غرقه شومه**

**د روژه ماتي وخت کې راغلې**
**زه به ډوډۍ خورم که به ستا دیدن کومه**

**چې مې زړګی شي درنه صبر**
**په روژه ماتي خدای ته دا دعا کومه**

**روژه یې تېره په خدمت شي**
**خوارې مېرمنې روژه ماتي پخوینه**

**ملا چابک سه اذان وکړه**
**د لیلا دواړه شونډې وینې څڅوینه**

**روژه د خدای له ډاره نیسم**
**د پرشمي دوعا کې ستا نوم یادومه**

**له موره ورکه مساپره**
**چې پیشړمي ته به دې څوک راپاڅوینه**

**هیله لرم چې ته زما شې**
**په پېشلمي مې خدای ته ډېر کړي سوالونه**

**یار په سفر ځي خولهٔ به ورکړم**
**روژه دې ماته شي، شپېته به ونیسمه**

**چې ستا بیلتون مې خراب نهکړي**
**د پسرلي روژې مې نه خرابوینه**

**په پټو سترګو پورشمی کړي**
**د ځوانی خوب یی لکه بنګه زنګوینه**

**د روژه ماتي نه پس راشه**
**پهٔ روح افزا لړلي خولهٔ به درکومه**

**ملا چابک شه اذان وکړه**
**د یار لویدلې سترګې زړه سوری کوینه**

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ